سرلوڅ مرادزی ۲۰۱۹ / ۰۱ / ۲۵

# ولسمشر غني او دولت سازي

د ۲۰۱۹ کال په ولسمشریزه ټاکنو کې ولسمشر اشرف غني **د دولت سازی په کړنلار**، د دوهم ځل لپاره بیا ټاکنو ته درېدلی او ځان یې نوماند کړی دی.
د نوماند توب په لومړی ځرګندونو کې ولسمشر غني وایی«افغانستان یو غښتلي او واکمن مرکزي دولت ته اړتیا لري»
د افغانستان په روانه اوږده غمیزه کې د یوه واکمن او غښتلي مرکزي دولت تشه، هغه مرکزي کړی ده چې د غمیزې نورې تولې برخې؛ که هغه د جګړې دوام دی، د سولې او امنیت نشتون دی، یا د هېواد د ودانی او پرمختګ پڅه وده او یا په پای کې د عدالت او دیموکراسي تته بنه ده؛ دا ټولې د مرکزې دولت په تشې پورې تړلي او له دې تشې خړوبیږي.
که د مرکزي دولت د پیاوړتیا تشه چې د ولسمشر غني ورته لړ څه ناوخته پام شوی، ډکه نه شي؛ بله هیڅ ستونزه له منځه نه شو وړلای او د وخت په تېرېدوو سره ستونزې نورې هم یوه پر بلې باریږي او په پای کې داسې ناورین ترې جوړیږي چې زموږ ټولنه نن ورسره مخ ده!
همدارنګه ستونزې او نیمګړتیاوې باید دلبندي شي او په هغو کې تر نورو لومړی، د مرکزي دولت  نیمګړتیا او تشه په نښه او بیا له منځه یووړل شي. له نیکه مرغه د ولسمشر غني د ټیم اوس دې ستونزې ته پام شوی او دهغې حل یې د خپلې کړنلارې په لومړیتوب کې راوستی.
زه خو وایم ولسمشر  غنی باید په ۲۰۱۴ کال د دولت سازی په کړنلار او د مرکزي غښتلي دولت په رامنځته کېدا، ټاکنو ته دریدلای وای. یا به ډېر ښه وای چې د ۱۹۹۲ کال د جهادي مافیا او وروسته د طالبي واکمنی د نسکورېدا، یاني په ۲۰۰۱ کال کې، کله چې نړیواله ټولنه افغانستان ته راغله او د دې ټولنې په ملاتړ د حکومتونو نوې لړۍ پیل شوه، د دولت سازی کړنلار او د مرکزي غښتلي دولت د جوړېدا چار په ټینګو ګامونو تعقیب او پلي شوی وای.
له ۲۰۰۱ کال راوروسته ۱۸ کلونه خورا اوږد مهال دی، موږ ډېر وخت له لاسه ورکړی. ۱۸ کلونه وروسته، اوسمهال د پیاوړي مرکزي حکومت د تشې خبره کوو او بیا دې هم د ولسمر غني کور ودان وي چې دغه تشې ته یې د مرکزي ستونزې او تشې پتوګه پام شو او د هغې حل یې ټاکنو کې خپله کړنلار وټاکله!
که د ولسمشر اشرف غني ټاکنیز کړنلار سره هممهال، د ځینو نوماندانو په تېره بیا چې تر نورو مخکښ ځلیږي لکه د ښاغلي حنیف اتمر او عبدالله عبدالله تګلار، دلته تر څېړنې لاندې ونیسو، د دې تګلارو په منځ کې د افغاني ټولنې د اصلي ستونزې د راڅېړنې او د هغې په حل کې هومره واټن لیدلای شو، څونه چې د ځمکې او اسمان ترمنځ شتون لري.
د حنیف اتمر په ټیم کې چې اسلامي جمعیت یې د ملا تیر جوړوي، د هغه لومړی مرستیال یونس قانوني په ډاګه وایی« موږ ته که په جوړښت (د حکومت) کې بدلون را نه شي مرستیالي هیڅ معنا نه لري، ریاست خو موږ ته نه رارسیږي، په دې دور کې باید زموږ ستراتیژیک هدف دا وي چې جوړښت له ریاستي څخه نیمه ریاستي ته بدل شي؛ یعني ولسمشر ۳ مرستیالان ولري، اجراییه ریاست پر صدارت تبدیل شي، د صدارت صلاحیتونه په ټولو چارو کې مشخص شي، والیان نیمه انتخابي شي او یوه عالي مشورتي شورا جوړه شي چې ټول مشران په هغې کې شامل وي. **دا ځلور وړاندیزونه مو وکړل او د جمعیت ګوند د سیاسي پروګرام په توګه مو وړاندې کړل چې** که هر کاندید ورسره موافقه وکړي د هغه به ملاتړ کوو.»
یونس قانوني چې خپلو یادو خبرو کې د هېواد اساسي قانون په بده وهي؛ که د حنیف اتمر په ټیم، ټاکنو کې بریالي شي، هغه تګلار به پلي کړي چې اسلامي جمعیت د برهان الدین رباني په سرخیلی په ۱۹۹۲ کال، په ټول افغانستان او په تېره بیا کابلښار کې پلي کړې وه. هلته هم اسلامي جمعیت، لومړی مرکزي حکومت ړنګ کړ او د ملي واک تشه یې رامنځته کړه چې پایله کې یې کابلښار کنډواله او ۷۰ زره کابلیان یې له تیغه تېرکړل. نن هم د قانونی د خبرو له مخې، اسلامي جمعیت بدل شوی نه ښکاري او هڅه  یې د مرکزي حکومت د جوړېدو مخنیوي ته متوجه ده، خو دا ځل د نیغ په نیغه کودتا پرځای، د پارلماني نظام په پلمه.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزي بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولۍ

د قانوني د ځلور واړه غوښتنو منځپانګه يوه ده او هغه د دولت سازۍ او ملت سازۍ مخنيوی، د واک د بېلا بېلو ټاپوګانو ژغورل، ګډوډۍ او انارشيزم ته لار پرانيستې ساتل!
د حنيف اتمر او قانوني د ټيم د «سولې او اعتدال» شعار هم هسې خوشې او پوچه خبره ده. د اسلامي جمعيت په کړنلار کې چې په يادو ځلورو ورانديزونو کې بيان شوی، نه د سولې تمه کېدای شی او نه د اعتدال!
بلخوا اعتدال د مرکزي پياوړي حکومت په جوړېدو سره رامنځته کېدای شي، نه د واک په بېلا بېلو ټاپوګانو او انارشيزم کې. همدارنګه سوله هم د مرکزي غښتلي حکومت پرته، ناشوني ده. نن سوله ځکه نشته چې مرکزي پياوړی دولت نشته. که موږ ريښتيا سوله او امنيت غواړو بايد مرکزي دولت جوړ کړو، که موږ د اعتدال غوښتنه لرو، دا غوښتنه په خبرو نه ترسره کيږي، بايد مرکزي حکومت هغه پلې کړي.
په راروانو ټاکنو کې د عبدالله عبدالله ټيم هم چې د اسلامي جمعيت د منافقت يو بل مخ دی، د «ثبات او همګرايی» تکلار مخې ته ړدې. لکه څنګه چې ځرګنده ده ثبات د مرکزي حکومت له شتون پرته، منځته نه شي راتلای. پوښتنه دا ده، عبدالله عبدالله خو د مرکزي پياوړي دولت پرځای، نامتمرکز او ويشلی دولتي واک غواړي، ايا په پاشلي دولتي واک سره ټولنه کې ثبات منځته راتلای شی؟ ايا له متمرکز دولتي واک پرته، تلپاتې سولې ته چې د افغانانو مبرمه غوښتنه ده، رسېدای شو؟ هيڅکله نه!
بلخوا دا څنګه «همګرايي» ده چې د يوه تنظيم (اسلامي جمعيت) او د يوې سيمې (پنجشير شريف!) ټاکلي خلک دې بيا بيا ځلي د هر ټاکنيز ټيم مشر، لومړی او يا دوهم مرستيال وي؟ ايا په نورو سياسي ډلو، ولسواليو او ولايتونو کې د شخصيتونو قحط الرجال دی؟ ايا په ټول هېواد کې يوازې اسلامي جمعيت او د پنجشير د بازارک کلی، سياستوال زيږوي او نور پراخ هېواد هيڅ!
ايا په درواغو کلي چليږی، ايا کوږ بار تر منزل رسيږي؟ ايا اسلامي جمعيت تر قيامته افغان ولس تېرييستلای شی؟ اسلامي جمعيت په نورو ټاکنيزو ټيمونو کې هم خپل کسان د دې لپاره ټومبلي چې هلته نه يوازې د مرکزي دولت د جوړېدو هڅه شنده کړي، بلکې د داسې کسانو په مټ د ريښتيني «ثبات او همګرايی» او د تلپاتې «سولې او اعتدال» هيلې هم په اوبو لاهوکړي.

پای


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ